# د مجذوب په شاعرۍ کښې یوناني تلمیحات

## Greeks Allusions in the poetry of Majzoob

فقیر محمد فقیر*
ډاکټر اباسین یوسفزی*

**Abstract**:

Abdur Rahim Majzoob is a reputed Pashto poet of modern age. His uniqueness in style and diction is recognized. His poetry possesses a variety of thoughts. His vast literature study and digestive knowledge adds another feather to his hat. One of the important aspects of his poetry is bringing the Greek allusions artistically in his poetry. In this regard his study of Greek literature, history, mythology, culture etc is appreciated. This dimension of his poetry makes him remarkable. This research paper deals with the same Greek allusions and mythology in his poetry.

یوې تاریخي پېښې ته بغېر د تفصیل بیانولو صرف اشاره کول تلمیح بللی شي. د تلمیح په وجه په کلام کښې د ښکلا سره سره اختصار هم پېدا کیږي. چې بلاغت زېږوي. د یوې پېښې، داستان یا واقعې په تفصیل سره د بیان ضرورت هم پاتې نۀ شي. غرض او مقصد هم تر سره شي. لکه کوزه کښې چې سمندر بند شي. که چرې کلام کښې دغسې تلمیحي واقعات تفصیل سره ذکر کړی شي نو یو خو به بې ځایه طوالت پېدا شي. او بل د ځانګړې لیک د تسلسل کړۍ د ماتېدو ویره هم وي. د دې په وجه په کلام کښې فصاحت او بلاغت سره سره د لیک خوند او رنګ یو په دوه شي.

تلمیح د عربۍ لمح یه لمحه نه وتلی دی. چې مختصر یا د لږ وخت یعنې لمحې په معنا دی.

لَمّح النظرة باالعجله"(1).

ترجمه: په تلوار تلوار نظر زغلول.

که مونږ په تلمیح غور وکړو نو دا هم په کلام کښې مختصره اشاره وي. چې زیاتي تفصیل نۀ لري. او زړۀ راښکون پېدا کوي. په روانه روانه کښې د نظارې هنداره وي. دا لکه د لفظونو د باران په شېبو کښې د برېښنا غوندې ځلیږي او د ماضي لویه واقعه رڼا کوي.

فضل میر خټک لیکي:

---

* Lecturar of Pashto Bacha Khan University Charsada Khyber Pashtoon Khwa
* Chairperson Dept. Of Pashto Islamia College Khyber Pashtoon Khwa.

"په کلام کښې يوې تاريخي يا مذهبي واقعې، قيصې، سړي، څيز، آيت قرآني، مشهور شعر ته اشاره کول يا د يو بل علم لکه نجوم موسيقۍ يا د رياضۍ وغېره علومو اصطلاحات راوړل. صنعت تلميح دی"(2).

هره واقعه، قيصه تلميح نۀ وي. داسې واقعات چې هغه مشهوره او منلی شوی وي. چې صرف اشاره ئې ذهن کښې پوره تصوير رغوي. دغسې د قرآن او حديث خبره خو ښکاره او مسلم ده.

مشتاق مجروح په دې اړه ليکي:

"په کلام يا شعر کښې زړې تاريخي واقعې ته اکثر شاعران اشاره کوي. داسې صنعت ته صنعت تلميح وئيلی شي"(3).

نظم وي که نثر دواړو کښې تلميح ځائيدلی شي. چې په ځای استعمال شي نو د کلام قدرو قيمت زياتوي. او دا نۀ ده چې صرف شاعران ئې استعمالوي.

ثوبان سعيد ليکي:

"تلمیح کے لغوی معنی کسی چیز کی طرف اشارہ کرنا یا کسی چیز پر اچتی ہوئی نگاہڈ النامر اد لیا جاتا ہے۔ لیکن علم بدیع کی اصطلاح میں تلمیح اس صنعت کا نام ہے۔ جس میں نظم یا نثر میں اشارے کے طور پر کسی مشہور افسانے، قصے، واقعے، احادیث و آیات قرآنی وغیرہ کا اس طرح ذکر کیا جائے سہ بغیر اس کو جانے ہوئے کلام کا لطف حاصل نہہو سکے۔ کلام میں مختصر اًدو ایک لفظ کسی واقعے یا قصے کی طرف اشارے کے لئے رکھ دئے جاتے ہیں۔ جس سے پوری طور پر پورے واقعے کی طرف ذہن منتقل ہو جاتا ہے اور شاعر تلمیح کا فائدہ حاصل کر لیتا ہے"(4).

ترجمه: د تلميح لغوي معنا د څۀ څيز اړخ ته اشاره يا سرسري نظر کول دي. خو د بديع په اصطلاح کښې تلميح د هغه صنعت نوم دی. چې په نظم يا نثر کښې مشهورې افسانې، قصې، واقعې، حديثونو يا د قرآن آيتونو وغېره داسې ذکر وشي چې په هغې په پوهېدلو نه بغېر د کلام خوند نۀ شي حاصلولی. کلام کښې په مختصره توګه يو يا دوه لفظونه يوې واقعې يا قيصې طرف ته اشاره کولې شي. چې د هغې په وجه فوراً پوره پېښې ته ذهن ځي او شاعر د تلميح نه فائده حاصلوي.

تر څو چې لوستونکی د پوره واقعې نه خبر نۀ وي نو د اشارې نه عرض او مقصد ته نۀ شي رسېدلی. ځکه چې د تلميح په وجه کلام مختصر شي او فصاحت او بلاغت پکښې هم پېدا شي. د دې نه علاوه تلميح خپله لمنه کښې تاريخي، سماجي، سياسي او تهذيبي روايات هم لري. دا صرف يو صنعت نۀ دی. د رواياتو آئينه هم ده او ترجماني هم. خو د دې نه فائده او خوند هله تر لاسه کېدلی شي چې په تلميح پوهه حاصله وي.

ډاکټر عطاء الرحمان صديقي ندوي د تلميح ډېره ښه ترجماني کوي.

" تلمیح وہ اندازِ کلام ہے جس میں کسی خیال کی ادائیگی کے لئے لطیف انداز میں کسی واقعے، قصے، داستان، مثل، اصطلاح یا آیات و احادیث سے کوئی مرکب تعبیر اخذ کی گئی ہو یا کوئی لفظ تراشا گیا ہو یا شعر کی مجموعی ہی اس نوعیت کا ہو۔ کہ ذہن کو کسی واقعے، قصے، داستان، مثل اور اصطلاح یا ایات و حدیث کی طرف منتقل کر دے۔ تلمیح کے لئے یہ ضروری نہیں ہے کہ کلام میں اشارہ لفظاً موجود ہو بلکہ معانی و مفہوم کے اعتبار سے بھی اگر اشارہ پایا جارہا ہے تو ایسے کلام کو بھی تلمیح شمار کیا جائے گا۔ بلکہ یہ زیادہ لطیف و بلیغ ہو گی۔ کیونکہ اس میں استعارہ کی شان پیدا ہو جائے گی "(5).

ترجمه: تلمیح د کلام هغه انداز ته وئیلی شي چې په هغې کښې د خیال د ادا کولو د پاره په لطیفه طریقه د یوې واقعې، قیصې، داستان، مثل، اصطلاح، آیت او حدیث نه مرکب تعبیر اخذ شوي وي. یا لفظ تراشلی شوي وي. یا د شعر داسې نوعیت چې ذهن کښې د واقعې، قیصې، داستان، مثل، اصطلاح یا آیت او حدیث تصویر جوړوي. د تلمیح د پاره ضروري نهٔ ده چې کلام کښې د لفظ په ذریعه اشاره وشي. د معنې او مفهوم په ذریعه اشاره کول هم تلمیح دی. بلکې دا زیات لطیف او بلیغ رنګ زیږوي. ځکه چې په دې کښې د استعارې خوند هم شامل شي.

پښتو ادب کښې دغسې بې شمېره تاریخي، تهذیبي، مذهبي، هندي، ایراني یوناني او دغسې پخواني مصري تلمیحات موجود دي. چې یو اړخ ته د ادب پنګه سېوا کوي. نو بل طرفته کلام کښې بدیعي رنګونه هم ځلوي.

## یوناني تلمیحات:

عبدالرحیم مجذوب په جدید شعري ادب کښې د ځانګړي مقام ښتن دی. او خصوصاً د لفظي جوړښت، هندي، مغربي، یوناني اویستائي یا ایراني او زاړهٔ مصري تاریخي تلمیحاتو په حواله خو بیخي د منفرد حیثیت شخصیت دی. او په دې حواله خپل ثاني او ساري نهٔ لري. د هغه په شاعرۍ کښې د اساطیري تلمیحاتو تله د نورو پښتنو شاعرانو په نسبت درنه ده. د دې وجه یوه خو دا ده چې هغه د عالمي ادب ژوره مطالعه لري. په انګرېزۍ هم عبور لري. او د عالمي تناظر، پخواني او جدید ادب سره مضبوطه رشته لري.

د عالمي فکر ښتن مجذوب په شاعرۍ کښې د دغه ځرک درک ډېر روښانه دی. بلکې د هغهٔ د شاعرۍ نمائنده اړخ دی. د دې نه علاوه په لساني حواله د هغهٔ کلام د اهمیت وړ دی. په دې دواړو حوالو د پښتو د جدید ادب بل شاعر دهٔ ته نهٔ رسي.

"ځنې دیو مالائي نظمونه ئې هم د انګرېزي نه ژباړلي دي خو زیاتره تلمیحات ئې خپلو نظمونو کښې د حوالې په توګه راوړي دي. داسې ئې کم کوز کړي دي چې په دیو مالائي حواله پوره نظم ولیکي خو دا اسطورې تلمیحات د هغهٔ ټوله شاعرۍ کښې داسې خوارهٔ وارهٔ لیدی شي، لکه چې د هغهٔ د تخلیقي واردات نهٔ بیلېدونکې یو جز په توګه وي"(6).

د هغهٔ په نظمونو کښې اشارتاً هم دغه قسم تلمیحات بیان شوي دي. او نظمونه هم پرې شته. لکه "د مروتو اپالو ته خطاب"، "لېمیا"، "ارکېډیا"، "صدای بازگشت"، "د مېترو پول دیوتا گان" او داسې نور هم د دغه قسم نظمونه دي. پوره پوره نظمونه ئې د ترجمې په شکل کښې هم موجود دي. مجذوب په پښتو، فارسۍ، اردو او انګریزي ادب پوهېږي. او فراخه مطالعه ئې هم لري. د دغې په برکت د هغهٔ په کلام د عالمي ادب کړۀ وړۀ څرګند لیدلی شي.

د عبدالرحیم مجذوب شاعرۍ کښې د یوناني تلمیحاتو یا مېتهالوجي نه علاوه هندي، ایراني، مصري او لاطیني تلمیحات ډېر په ښهٔ انداز په نظر راځي. چې د هغهٔ د تخیل، وسیعې مطالعې او شاعرانه فني ګرفت عکاسي کوي. دلته د هغهٔ صرف هغه تلمیحات یا اساطیر بیانولی شي چې د هغې تعلق یوناني تصوراتو، فلسفې، روایاتو یا خاورې سره دی.

په یوناني اساطیر (Greek Mythology)کښې زیوس(Zeus) ته د لوئی خدای (Chief god) مرتبه حاصله ده. هر یو کار د دهٔ په رضا کیږي.

رچرډ انس (Richard Ince) لیکي:

“Zeus. The chief god of the Hellenic pantheon.The sky and father god of ancient Greece".(7)

*"یونانیوں کا عقدہ تھا کہ انسانوں کی رسائی دیوتاؤں حتیٰ کہ زیئوس دیوتا تک ہو سکتی ہے جو اپنی مرضی کا اظہار اپولو کی زبان سے کراتا ہے۔ دیوتاؤں نے اپنے مکاشفوں کے لئے بعض مقامات مخصوص کر دیئے تھے اور بعض لوگوں کو جو مقدس سمجھے جاتے تھے اپولو کے جواب کے معنی سمجھانے کی قدرت عطا کر دی تھی۔ ایسے لوگ ڈیلفی کے مندر میں پائے جاتے تھے"(8).*

ترجمه: د یونان د خلقو عقیده وه چې د انسان د نزدیکت دیوتا ګانو یا خدائیګوټو ته هم کیدلی شي. تر دې چې زئیوس ته ئې رسېدل ممکن دي. هغه (زئیوس) د خپلې خوښۍ اظهار د اپالو په ذریعه کوي. د خدائیګوټو (دیوتاګانو) د الهامونو د پاره بعضې ځایونه مقرر کړی شوي وو. او ځینې خلق چې مقدس ګڼلی شو. هغوی ته د اپالو د جواب پوهولو قوت او پوهه ورکړی شوی وه. دغه خلق د ډیلفي په مندرونو کښې وسېدل.

د ګڼو خدایانو تصور په روم، مصر، ایران، یونان او هند کښې تقریباً تقریباً یو شان دی. د دغه ملکونو او قومونو لرغونی تاریخ هم دغه حقیقت په ګوته کوي.

ډاکټر مهر عبدالحق لیکي:

*"ایک دلچسپ بات یہ بھی سامنے آئی ہے کہ کئی ملکوں میں خدائے واحد کی حیثیت ختم ہونے کے بعد تین بڑے دیوتا ظہور میں آتے ہیں۔ جنہیں "تری مورتی" کا نام دیا جاتا ہے۔ رگ وید کے دور میں اگنی، وایو اور سوریہ جو ادتی (خدا) کی اولاد تھے۔ تری مورتی کے طور پر سامنے آئے۔ رگ وید کے بعد تری مورتی برہما، وشنو اور شیوا سے بنتی ہے۔ یونان میں زیئوس، پوسائیڈ اور ہیڈیس کی تثلیث ہے"(9).*

یوه دلچسپه خبره دا هم مخې ته راغلې ده چې په ځنو ملکونو کښې د یو خدای حېثیت ختمېدلو نه پس درې لوئی دېوتاګان پېدا شوي دي. چې ورته "تري مورتي" نومونه ورکړی شوي دي. د رګ وېد په دور کښې اګني، وایو او سوریه چې د "ادتي" (خدائیګوټي) اولاد وو. او د تري مورتي په شکل مخې ته راغلې دي. رګ وېد نه پس تري مورتي، برهما، وشنو او شِوا نه جوړېږي. یونان کښې زئیوس وسائیډ او هیډیز نومونه مخې ته راځي.

د مستشرقینو او جدید تحقیق مطابق دا ټول قومونه او د دوی د ژبو خپلو کښې نزدې تړون دی. او دا ټول آرین قوم سره تعلق لري. تصورات هم یو بل ته نزدې دي.

د زیوس د تلمیح په اړه کالیپسو نومې نظم مجذوب اشارتاً داسې ذکر کوي.

هر مس ووې اې حسینې سحر کاري
د دوندونو راستوونکي دا فرمان دی

چې اوډېسي به له تا نه جدا کیږي
زړۀ ئې کیږي خپل وطن ته پرېشان دی"(10)

وړاندې د کالیپسو په خولۀ ګویان دی وائي چې

څوک رضا شي د خدایانو بدلولی
چې د وریځو غونډونکي دا فرمان دی
خود به ځي له ما زما زړګی اوډېسي"(11)

په دې نظم کښې چې کومې پېښې ته اشاره شوې ده. د نظم نه وړاندې ئې مجذوب وضاحت کړی دی چې په دې رنګ دی.

"اوډېسي د ټرای د جنګ نه پس خپل وطن ته روان شو نو زیس د هغۀ جهاز په تندر وویشتو. جهاز غرق شو. اوډېسي په لامبو لامبو یوې جزیرې ته ووتو. هلته یوه جادوګره ښاپېرۍ وسېده چې نوم ئې کالیپسو وو. هغې اوډېسي ځان سره ایسار کړی وو. زیس بیا خپل قاصد هرمس ته ووې چې لاړ شه، کالیپسو ته وایه چې اوډېسي اوس ازاد کړي او خپل وطن ته لاړ شي"(12).

په دې نظم یا دغه شعرونو کښې د زئیوس نېغ په نېغه ذکر نۀ شته خو منصب او قدرت ته ئې واضحه اشاره ده. واضحه اشاره هم تلمیح وي. زئیوس نه علاوه د اپالو تلمیح یا اساطیري ذکر د

مجذوب په شاعرۍ کښې په نظر راځي. اپالو ته هم په یوناني ادب کښې د خدائیګوټي مرتبه حاصله ده. د زئیوس نه د کمې درجې دی او د هغهٔ د نائب کردار لوبوي.

اپالو د نمر د خدای درجه لري.

“Apolo sum god and vegetation god of greekmethology son zeus and letoo"(13)

اپالو به د زئیوس پیغام د الهام یا مکاشفې په صورت کښې ځنې مخصوص بزرګانو او مقدسو خلقو ته رسولو. دغه خلق به مندر کښې اوسېدل او د عزت په سترګه به ورته کتلې شو. اکثر کارونه لکه جنګونه، مهمونه او دغسې نور به د دغه خلقو په اجازت یا د هغوی د الهام مطابق کولې شو ګنې پرېښودلې کېدل به.

*"اپولو دیوتا کے مکاشفوں کی قدرو منزلت ان مندروں سے بھی زیادہ کی جاتی تھی۔ لوگ مکاشفوں ذریعے زئیوس دیوتا کی مرضی معلوم کرنے کیلئے دور دراز مقاموں سے آتے تھے"*(14).

ترجمه: د اپولو خدائیګوټي الهامونو ته د قدراو عزت په نظر کتلی شو. خلقو به د الهام په ذریعه د زیوس د خوښۍ نا خوښۍ معلومولو د پاره د لرې لرې نه (مندر) ته راتلل.

مجذوب خپل نظم " د مروتو اپالو ته خطاب" کښې دغسې تلمیح ته اشاره داسې کوي.

تهٔ خو ګله! ما چرته لیدلی وی یونان کښې
دلته ځنګه شورې د لکۍ په رېګستان کښې
چرته دېوتاګان چې دعوتونو ته را درومي
واړه بې قراره ارواحونه قرار مومي
هغه د ارکېډیا ځهٔ ښکلی لاله زار دی
هر خوا خیابان چې لا زواله ئې بهار دی
دلته خو کُځو کښې لوخې کانې دي ولاړې
"ډیفني" جوړې بیا د ګمبلې په غاړه غواړې
تهٔ د کاڼې بوټي سره ئې ځهٔ طلب دی؟
زړهٔ کښې دې راوړی له یونانه ځهٔ مطلب دی"(15)

هم په دې نظم د "ارکېډیا" تلمیح هم مخې ته راغلی دی. ارکېډیا د دیوتاګانو د سېل او تفریح مقام دی په دې نوم مجذوب یو نظم هم لیکلی دی. چې د یوناني تلمیح یوه هنداره ده.

داسې دنیا چې دا فرېب او دا فراز نهٔ لري
سوز د هیچا پکښې بل چا د پاره ساز نهٔ لري
داسې دنیا چې پکښې نهٔ وي د دنیا غمونه
غم د غربت د مشقت او د عقبا غمونه

په دې جهان چې د انسان د لاسه نۀ څوريږي
په بل جهان چې بيا خدايان ورباندې نۀ بلوسيږي
زما غريبه خلقه او بد نصيبه خلقه!
راځئ چې مونږه ځان ته بله يوه دنيا جوړه کړو
په دې پردۍ دنيا کښې خپله يوه دنيا جوړه کړو"(16)

د مجذوب بل نظم "د ميټرو پول د ديوتاګان" کښې ئې دغه تلميح په زړۀ پورې انداز استعمال کړې دی. په دې نظم کښې په استحصال کوونکو زبردست طنز دی. ميټرو پول د ديوتاګانو د اوسېدلو ماڼۍ ده.

په ميټروپول کښې اوسېدونکو ديوتاګانو واورئ
ستاسو خدائي د استبداد نوره زغملی نۀ شو
د اقتدار په نشه مستو واکدارانو واورئ
زيات مو په غوښو د لړمون باندې ساتلی نۀ شو"(17)

د مجذوب بل يو نظم "راته وايه خړې خراړې" کښې چې په زيرګلونه کښې شامل دی. د ارفيئس تلميح راوړی دی. د خوږ او مترنم موسيقيت د پاره ئې پکارولی دی.

په يوناني اساطير کښې د آرفيئس کردار داسې بيان شوی دی چې په يوريدس مئين وي. هغه مار وچيچي او مړه شي. نو هغه ئې په نغمو کښې ستائي آخر ديوتا له اړخه اجازت ورته ورکړی شي چې يوريدس د مړو له ځايه بوځي خو تر څو چې د دغه ځايه وتلی نۀ وي شاته به نۀ ګوري. هغه په تلو تلو کښې شاته وګوري او مقصد کښې ناکامه شي. او بيا د سوز نه ډکې داسې نغمې شروع کړې چې ساه لرونکي خو څۀ چې کاڼي بوټي هم د ځان سره ژړوي.

مجذوب دا تلميح داسې راوړی دی:

که بلبل خوږه وينا کړي خو په ګل باندې مئين دی
په ګلونو کښې ګرځيږي ځای د ناستې ئې ګلشن دی
ستا په خړو خړو لوټو کښې استوګنه نشيمن دی
بيا هم څومره قدر خوږ دی ستا اواز په غم لړلی
تا په دو لوګو مېرو کښې روح د ارفيئس موندلی
که درکړي دي په خولۀ کښې ښاپيرانو خپلې لاړې
راته وايه خړې خراړې"(18)

د کاليپسو او اوډيسي تلميحي کردارونه چې د يونان اساطيري ادب کښې د اهميت وړ دي مجذوب په ښۀ شان خپله شاعرۍ کښې بيان کړي دي.

اوډیسي د یونان د مشهور جنګ ټرائی اهم کردار دی. د یونان مشهور شاعر هومر ورله ابدي شان ورکړی دی. دغه جنګ د کامیابۍ نه پس چې اوډیسي واپس روان شو نو کشتۍ ئې دریاب کښې ماته شي. ډیرو سختو کشالو او اندېښنو سره مخ شي. د پیریانو، دیوانو او ښاپیرو سره ئې مقابلې کیږي او ناقابل یقین کارنامې ترسره کوي. اخر د کالیپسو ښاپیرۍ په ولقه کښې راشي هغه پرې مئینه وي او د ځان سره یې ساتلی وي.

مجذوب دغه تلمیح د "لعل او کوتي لعل" کالیپسو نومې نظم کښې داسې وړاندې کوي.

ټوله ورځ کالیپسو ځان سره اخته وي
په خوږو خوږو سندرو په خپل غار کښې
یا په تیوزو کښې پټې د زرو اوبې
کښېنولی ئې اوډیسې په کنار کښې"(19)

په دې نظم کښې د اوډېسي او کالیپسو دواړو تلمیحات شته.

د یونان په تاریخ کښې د ټرائی جنګ ډېر مشهور دی دا جنګ لس کاله جاري وو اخر یونانیانو وګټلو خلق ئې بندیان کړل او ښار ئې وسوزولو.

لکه ټرائی چې تباه وي
چا ناموس د نوموړي
په دښمن پسې راښکه شي
په لاسونو کښې ئې پړي"(20)

په دې جنګ کښې د ټرائی د باچا ښځه هیکوبا د دې جنګ د ګټونکي اوډېسي لاس ته راغلې ؤ.

د دې خاوند به ئې ترکومه په پنجره کښې وي کور
دې هیکوبا به په خشکي که په اوبو کښې شي ګور"(21)

د یونان په اساطیرو کښې د "هر مس" کردار ډېر اهم دی. دی د خدایانو د پېغامونو رسوونکی دی. دا تلمیحي کردار مجذوب په زړۀ پورې انداز کښې بیان کړی دی.

هرمس تل دغه پېشه ده
د خدایانو پېغمبر دی
له هر خدای څنې پېغام
رسوي هرمس مدام"(22)

د یونان د اساطیرو په تاریخ کښې د نارکسېس او ایکو قصه هم شهرت لري. د ایکو نارکسېس سره بې شانه مینه وي او تل ئې لارې څاري خو هغه پرې هیڅ پرواه نۀ کوي. د ایکو نه د

یوې واقعې په نتیجه د زیوس د ښځې د ښېرو په وجه ګونج یعنې انګازه جوړېږي. د نارکسېس نه هم د نرګس ګُل جوړ شوی وي، یوه ورځ نارکسېس د تندې سړولو د پاره یوې چینې ته اوبۀ څښي چې خپله څېره اوبو کښې ووینې او په ځان مئین شي. ځانته په زارو شي. د دۀ ګونج تر غوږ شي دا ئې خیال وي چې دا ښکلې ارواح ورسره خبرې کوي. د خپل انځور په رانیولو اوبو ته پرېوځي او مړ شي.

دا تلمیح مجذوب "د انګازې سندره" کښې څۀ ښکلی بیان کړی دی.

تۀ ئې بې پروا که چغې وکړم درته ډېرې
اې ګل نرګسه! تۀ چرې ځې تۀ چیرې؟
خدای دې وکړي تۀ هم که مئین په خپل تصویر شې
ګورې آئینې ته سم اخته د ځان په ویر شې"(23)

دا تلمیح مجذوب "د نرګس مړاوي ګل" کښې هم بیان کړی دی.

اې د نرګس مړاوې ګله!
اې د نرګس مړاوې ګله په خپل ځان مئینه
ستا هغه کبر څۀ شو
تا به چې نۀ اورېدو د مئین زړۀ فریاد
تا به چې غوږ کوڼ کړو د چا مئین په نارو
نرګسه! دا هم جوړې تا غوندې مئین وو په ځان
له عاشقانو تښتېدو
له وړو سترګو یریدو
خو وار ئې تېر شو اوس لګیا ده عاشقان غواړي"(24)

د مجذوب بل نظم "صدائے بازګشت" هم د دغه ایکو (انګازې) چې په نارکسېس مئینه وه. هغې ته اشاره کوي.

زما مغزو کښې غړېږي زما زړۀ کښې راتېرېږي
ماته شپه ورځې یادیږي

یو څو ښکلې صورتونه
چې یادیږي ژنې جونه
د دې باغ د بڼ ګلونه
دا ژوندي دي که دا مړۀ وي

خو زما د سترګو وړاندې
هغه شان ګرځي را ګرځي څۀ خبرې راته کاندي
دا خبرې مې يادېږي
چې له ما نه نۀ هېرېږي"(25)

عبدالرحيم مجذوب د خپل شاعرانه طبعيت، ويړې مطالعې په اساس خپله شاعرۍ کښې عالمي مضامين ډېر په غوره او زړۀ راښکونکي انداز بيانوي. د هغۀ شاعرۍ کښې که مونږ صرف تلميحاتو ته غور وکړو نو د ډېرو رنګونو هېنداره ده. اسلامي او مذهبي تلميحات، يوناني، مصري، هندي، ايراني، لاطيني، انګريزي غرض دا چې هر قسم تلميحاتو زړۀ پورې انداز يې ساري نۀ لري.

❀❀❀

# حوالې


(1)ابن منظور، جمال الدین محمد بن مکرم، لسان اللسان، تهذیب لسان العرب، جلد دوم، دارالکتب العلمیه، بېروت، لبنان، اول چاپ ۱۴۱۳ھ / ۱۹۹۳ء

(2) خټک، فضل میر، فضلیات، پېښور، ۱۹۹۹ء، مخ ۱۴۴

(3) یوسفزی، مجروح، مشتاق، زرکاڼی، پېښور، یونیورسټي بک اېجنسي درېم چاپ، ۲۰۱۰ء، مخ ۷۶.

(4)سعید، ثوبان، فرہنگ تلمیحات، نئی دہلی، نیو انڈیا افیسٹ پرنٹرز، سن ندارد، ص ۲۴.

(5)ندوی، صدیقی، عطاء الرحمان، ڈاکٹر، اردو شاعری میں اسلامی تلمیحات، لکھنو، ندوۃ العلماء، ۲۰۰۴ء، ص ۱۴۹

(6) فاران، فیصل، اساطیري تلمیحات پښتو شاعرۍ کښې، کوټه، پښتو اکېډیمي بلوچستان، ۲۰۱۵ء، مخ ۳۷۰ .

(7) Richard ince, a Dictionary of religion and religious, new Delhi, Cosmo Publications, 2004, p 293.

(8) تاریخ یونان، مخ ۲۲۷.

(9)عبد الحق، مہر، ڈاکٹر، ہندو صنمیات، سلامت اقبال پرنٹنگ پریس، بار دوم، ۲۰۰۲ء، ص XX VIII.

(10) مجذوب، عبدالرحیم، د مجذوب کلیات، پرمختګ بنو، ۲۰۱۳ء، مخ ۱۹۴.

(11) ایضاً، مخ ۱۹۵.

(12) ایضاً، مخ ۱۸۴.

(13) Richard ince, a Dictionary of religion and religious, new Delhi, Cosmo Publications, 2004, p 21.

(14) تاریخ یونان، مخ ۲۲۷.

(15) مجذوب، عبدالرحیم، دارالاوهام، پېښور، منظورِ عام پریس، ۱۹۸۰ء، مخ ۴۳، ۴۴.

(16) ایضاً، مخ ۷۰.

(17) ایضاً، مخ ۱۷۹

(18) ایضاً، مخ ۱۲۳

(19) ایضاً، مخ ۷۸، ۷۹.

(20) ایضاً، مخ ۱۹۰.

(21) ایضاً، مخ ۲۸

(22) ایضاً، مخ **۵۰**
(23) ایضاً، مخ **۵۵**
(24) ایضاً، مخ **۶۳**
(25) ایضاً، مخ **۳۴۹**